Azerbaijan Society OF MAINE
Celebrating cultural heritage


# د کووید-۱۹ معاینه

د مین په ایالت کې ټول وګړي دي ته هڅول کېږي تر څو د کرونا معاینې د پراخه فرصتونو څخه ګټه پورته کړي، په ځانګړي ډول هغه کسان چې د لوړ خطر په ساحه کې دی او یا هم د دې ناروغی نښې او نښانې لري.
معاینه د کووید ۱۹ د مخنیوي او مدیریت لپاره مهم ګام دی، او پدې واسطه مونږ کولای شو هغه پلانونه عملي کړو تر څو په خوندي توګه اقتصاد بیا پرانیزو او خپله ټولنه سالمه او په امن کې وساتو.
معاینه مرسته کوي تر څو وښایي چې آیا تاسې په کووید ۱۹ اخته یاست او کنه، او یا هم چې کومې نښې لری د دې ناروغی دی او کنه.
**معاینه د ټولو لپاره وړیا ده.** ستاسې کولای شی معاینه وکړی حتی که روغتیایي بیمه هم ونلری، او دا هم مهمه نده چې د مهاجرت حالت مو څه دی.



## څوک باید معاینه شي؟

تاسې په وړیا توګه معاینه کیدای شی، کچېری:
1. له هغه چا سره مو له نږدې اړیکه نیولی چې په کرونا اخته وي.
2. په تېرو ۱۴ ورځو کې مو د لاندې نښانو څخه لرلي وي:
**ټوخی، د ساه لنډوالی او یا ستونزمن تنفس، تبه، لړزه، د غړو درد، د ستوني درد، د خوند یا بوی حس له لاسه ورکول، زړه بدوالی، کانګې، نس ناستی**



## چېرته او څنګه معاینه شو؟



- که چېرې شخصی ډاکتر لری، د هغه سره اړیکه ټینګه کړی. هغوی به تاسې ته لارښوونه وکړي چې د معاینې لپاره چېرته لاړ شی او هلته له رسېدو سره سم څه وکړی.
- که چېری شخصی ډاکتر نلری او د ځان د معاینه کولو لپاره اړتیا ده، نو له 211 مېن شمېرې سره اړیکه ونیسی. دوی به تاسې له هغه ډاکتر سره په اړیکه کې کړی چې نوي ناروغان مني. یواځې 1-1-2 شمېرې ته زنګ ووهی.
- که غواړی د سینټ مری روغتیایي سیستم (St. Mary's Health System) یا ټولنیزو کلینیکی چوپړتیاوو (Community Clinical Services) کې د ځان درملنې لپاره ډاکتر غوره کړی، پدې شمېره اړیکه ونیسی: **207-777-8899**
- که غواړی په مرکزی مېن روغتیایي سیستم (Central Maine Healthcare System) کې د ځان درملنې لپاره ډاکتر وټاکی، په دغه شمېره زنګ ووهی: **1-866-834-8343**
- د پورټلند په سیمه کې روغتونونو ته له تللو مخکې له دوی سره اړیکه ونیسی:
  1) مېن مېډیکل سنټر (Maine Medical Center): **207-662-0111**
  2) مرسي روغتون (Mercy Hospital): **207-879-3000**
  3) ګرېټر پورټلند هېلت (Greater Portland Health): **207-874-2141**
- همدارنګه، سي.وي.اېس (CVS) درملتون په آګستا Augusta، بېډفورډ Biddeford، جنوبي پورټلنډ South Portland، او پورټلنډ Portland ښارونو کې د کرونا معاینې "د موټر د ننه" ترسره کوي.
  1) تاسې باید څو پوښتنې ځواب کړی ترڅو جوته شي چې د کووید ۱۹ د معاینې وړ یاست.
  2) دغه ویبسایټ www.cvs.com/minuteclinic/covid-19-testing ته لاړ شی او د نوم لیکنې فورمه ډکه کړی، بیا د معاینې لپاره نېټه او وخت وټاکی.

پداسی حال کې چې تاسې د معاینې لپاره نوم لیکنه کوی، د خوندیتوب لارښوونې تل وڅاری.
خپل لاسونه ومینځی، ماسک واغوندی، او کله چې په ټولنه کې یاست یو د بل نه ۶ فوټه واټن ولری.